د افغانستان اسلامي امارت

# د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د دفتر عمومي ریاست
د صادرې مهر: 1398 نېټه 2025/9/22

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**جلالتمآب سریک ژومانګارین**

**د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر مرستیال او د ملي اقتصاد وزیر!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**ګرانه وروره!** ما د افغانستان په سویل ختیځ ولایتونو (کونړ، ننګرهار او لغمان) کې د زلزلې د غمجنې پېښې په اړه ستاسو جلالتمآب د خواخوږۍ او د افغانستان له خلکو سره د غمرازۍ او تسلیت پیغام ترلاسه کړ. د افغانستان د خلکو په استازیتوب تاسې جلالتمآب او د قزاقستان جمهوریت نېک او ورور ملت ته د منني او قدردانۍ مراتب وړاندې کوم.

دغه د خواخوږۍ او یووالي پیغام د دواړو هېوادونو د دوستانه او پیاوړو اړیکو ننبه ګڼل کېږي. هیله ده چې دا دوستانه اړیکې او رغنده همکاري نوره هم پراخه شي او دواړه هېوادونه په سیمه کې د سولې، ثبات او سوکالۍ لپاره په ګډه کار وکړي. خدای تعالی جل جلاله دې دواړه ولسونه له هر ډول افتونو څخه وساتي.

په پای کې یو ځل بیا له دې فرصت څخه په ګټه اخیستنې ستاسې جلالتماب او د قزاقستان جمهوریت نېک ملت ته د پرمختګ او سوکالۍ هیله کوم.

والسلام

**الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند**

**د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال**


Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul – Afghanistan پته: صدارت – مرمرینه ماڼۍ - د ملک اصغر څلور لارې – کابل – افغانستان

Contact number: 0202105504 د اړیکې شمېره: 0202105504